استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

منبع: د آزادی راديو ۲۳ دسمبر، ۲٤

# کډوالو نړیواله ورځ - تر لس میلونو زیات افغان په کډوالۍ کمپ ژوند کوی

۱۸ دسمبر ۲۰۲٤




**نن چهارشنبه د ډیسمبر اتلسمه د کډوالو نړیواله ورځ ده. دا ورځ سږکال بیا داسې مهال رارسیږي چې افغانستان بیا هم د نړۍ د هغو هیوادونو په سر کې دی چې یو زیات شمېر وګړي یې ژوند له هیواده بهر او په هیواد کې دننه له خپلو اصلي مینو لرې په کډوالۍ کې تیروي.**

د فواد په نوم یو افغان چې دا مهال په ایران کې د کډوالۍ ژوند کوي، ازادي راډیو ته په یو پیغام کې په ایران کې د افغان کډوالو د ژوند شرایط ناوړه بللي دي. فواد وایي ازادي راډیو ته ویلي"اوس د تهران په پردیس سیمه کې یم. د افغان کډوالو وضعیت دلته ډېر خراب دی. دوه

اوونۍ کېږي چې د ایراني چارواکو له خوا ګڼ افغان کډوال نیول شوي او د افغانستان پولې ته اړول شوي دي". د فواد په وینا په پر یو شمېر نورو افغانانو "د جرمونو تورونه لګولي او تراوسه په توقیف کې دي".

ګڼ افغانان له کلونو راهیسې په ګاونډیو هېوادونو، ایران او پاکستان کې ژوند کوي. ځینې بیا د سیمې نورو نږدې او لیرې هېوادونو ته کډه شوي دي. یو شمېر ځوانانو حتی د مرګ په ګډون د کډوالۍ د سختو لارو ستونزې زغملي او تر اروپایي هېوادونو پورې رسېدلي دي. ډېرى دغه افغانان د اروپا ته د رسېدو لپاره د ترکيې له لارو کار اخلي. خو په ترکیه کې هم د افغان کډوالو په وړاندې د چارواکو له چلند د هرې ورځې په تېرېدو شکایتونه زیاتیږي.

وحیدالله امیري، چې له دوو کلونو راهیسې په ترکیه کې اوسي، ازادي راډیو ته په یوه رالېږلي پیغام کې ویلي، "دلته د افغانانو، ځانګړي ډول د ځوانانو، وضعیت ډېر د اندېښنې وړ دی. په نورو پولو او هم د ترکيې او ایران ترمنځ پر افغانانو ډزې کېږي او له دوی سره غیرانساني او غیراخلاقي چلند کېږي ".

نوموړي چې وایي دا مهال د ترکيې په وان سیمه کې اوسي زیاتوي" دلته په وان کې، په ډېرو هدیرو کې د سلګونو افغانانو مړي خښ دي، خو د قبرونو پر سر یې نومونه نشته. ګڼ افغانان په روغتونونو، کمپونو او زندانونو کې د بې برخلیک حالت ښکار دي. څوک زموږ د وضعیت پوښتنه نه کوي".
په افغانستان کې د سیاسي، اقتصادي، امنیتي او اقلیمي بدلونونو له امله ګڼ افغانان مجبور شوي چې له هېواده بهر یا هم د خپل هېواد دننه د خپلو اصلي سیمو پرېښودو ته اړ شي. د کډوالۍ نړیوال سازمان څو میاشتې مخکې وویل چې له ۲۰۲۰ م کال راهیسې شاوخوا اته میلیونه افغانان له هېواده وتلي دي.
د ملګرو ملتونو د کډوالو لوېې کمېشنرۍ هم څو میاشتې مخکې ویلي وو، په ټوله کې څه کم یولس میلیونه افغانان د جګړو او ناامنیو له امله بېځایه شوي، چې ډېرى یې په کور دننه یا په ګاونډیو هېوادونو کې ژوند کوي.
د دې کمېشنرۍ د معلوماتو له مخې، د ایران د حکومت په وینا شاوخوا څلور نیم میلیونه افغان کډوال په ایران کې اوسي. همدارنګه ۳/۲ میلیونه افغانان د افغانستان دننه له خپلو اصلي سیمو بې ځایه شوي او د ۲۰۲۳ م کال د سپټمبر له ۱۵مې راهیسې تر ۶۵۰ زرو ډېر افغانان له

پاکستانه ببرته افغانستان ته ستانه کړی شوي دي. پاکستان لا هم د شاوخوا درې میلیونو افغان کډوالو کوربه دی.
په وروستیو کې د ایران له لوري هم د افغان کډوالو د ایستلو بهیر چټک شوی دی.
د ملګرو ملتونو د کډوالو لویې کمېشنرۍ د سوریې له وروستیو بدلونو مخکې ویلي وو، د سوریایي او اوکرایني کډوالو وروسته افغانان د نړۍ د کډوالو دریېمه لویه برخه جوړوي. د دې کمېشنرۍ د معلوماتو له مخې، د ټولو کډوالو شویو افغانانو یو میلیون یې اروپایي هېوادونو ته پناه وړې او ۸۵ سلنه یې ګاونډیو هېوادونو ایران او پاکستان ته کډه شوي دي.
له افغانستانه د کډوالۍ بهیر د ۱۹۸۰مې لسیزې په لومړیو کې د پخواني شوروي اتحاد د یرغل پرمهال پیل شو. د شوروي د اشغال په کلونو او د کورنیو جګړو پر مهال هم میلیونه افغانان د جګړو او ناامنیو له امله اړ شول کډوالۍ ته مخه کړي. که څه هم د طالبانو د بیا واکمنېدو وروسته د جګړې عمده لاملونه تر یوه بریده له منځه تللي، خو د اقتصادي بحران، محدودیتونو، بشري حقونو د نقض او د کاري فرصتونو د نشتوالي په څېر عوامل لا هم د دې سبب شوي چې د افغانانو د کډوالۍ بهیر دوام ومومي.

salamwatanam@gmail.com